
کلک سترګی
لنډه کیسه
Ketabton.com
لیکوال
شریف الله تنها

(c) ketabton.com: The Digital Library

# معرفت

د ژانر ډول.................................................. لنډه کیسه

د کیسې نوم............................................ کلک سترګی

لیکوال...............................................شریف الله تنها

د تلیفون شمېره.................................0093706996648

برېښنا لیک ...................shariftanha600@gmail.com

د واټساف شمېره................................0093779385830

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پیل

زما لویه تېروتنه همدا وه چې غلی پاتې شوم او څه مې ونه ویل!

هغه وخت چې زما همزولو خپلو مېندو ته ویل،پلانۍ مې خوښه ده، زما لپاره ریشته ورولېږئ!

د دې خبرې په کولو سره د جواد سترګې ډکې شوې او په زوره یې وژړل.لا شېبه تېره نه وه چې خپلو خبرو ته یې داو ورکړ.

همزولو مې کوژدې وکړې، څه موده وروسته یې ودونه هم وکړل.داسې وخت راغی چې خدای اولادونه ورکړل.زما کورنۍ به زما د کوژدې او واده پانه هم نه اړوله.بس دومره وه چې کله کله به یې راته ویل چې فلانۍ ښه انجلۍ ده او ستا لپاره یې پوښتنه کوو.خدای شته په دې خبرو به مې هم زړه د سکون احساس کاو.

په تمه وم چې څه به شوي وي.میاشت نیمه ورسته به مې په کنایه کې د خبرې ذکر وکړ، نو دومره به پوه شوم چې کار نه دی شوی.ما به له ځان سره ویل.ځواني ده، وبه شي او بله دا چې د مجردۍ ژوند هم ښه دی، نه له چا څه غواړې او نه درڅخه څوک څه غواړي.

لنډه دا چې ټولو همزولو مې ودونه وکړل.زه چې به یې کله ولیدلم، نو همدا پوښتنې به یې په خولو وې چې یار واده دې څنګه شو؟ ما به هم یواځې په نه سره ځواب ورکاو.دوی به په ما پور ملنډې وهلې، خو ما چېرې هم د دوی ملنډې په زړه نه وې اخیستې.لا هغسې په تمه وم چې نن دی او که سبا خو زما د کوژدې او واده انتظام به کېږي.

کله کله به مې د خلکو له خولو څخه اورېدل چې په فلاني ځای کې انجلۍ له هلک سره وتختېده. په فلاني ځای کې یو هلک د انجلۍ سره ووژل شو. فلانی په فلانۍ ګُنا کې ښکېل دی. نو ما به هم نورو ته نصیحتونه کول چې ګوره د نورو عزت ته په سپکه کتل ښه کار نه دی او باید د خپل عزت خیال هم وساتل شي.

یو وخت مې په کور کې په ډاګه وویل چې ماته کوژده وکړئ، نو ناستو ټولو ماته نېغ نېغ راوکتل.مور مې وویل ډېر کلک سترګی یې. پخپله د داسې خبرو یادونه کوې!

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما سر ټیټ کړ.زه پوهېدم چې اسلام مور ته اجازه راکوي تر څو په خپله خوښه کوژده وکړو او انجلۍ هم د ځینو شرایطو په نظر کې نیولو سره ووینو، خو د پښتنو ټولنه ده، خلک یې بده ګڼي. د همدغې خبرې له کبله په ما د کلک سترګي نوم کېښودل شو. د کورنۍ ټولو غړو به راته د کلک سترګي خطاب کاو. ما نور په خوله لاس کېښود او په دې اړه به مې هېڅ نه ویل.

ګوره! شیطان د انسان دښمن دی. زه دومره پرهېزګار هم نه وم چې یو چا ځان ته بللی وای او ما ورته ویلي وای چې زه له خدای څخه ویرېږم. د دې خبرې په کولو سره جواد دېوال په څوک ووهه. له لاس څخه یې وینې روانې شوې. زه پاسېدم او د خپل رومال په څنډه مې د هغه لاس وتړه.

د جواد په څېره کې د مایوسۍ او درد نښې له وریا ښکارېدې. هغه غلی ناست و او زه په دې انتظار وم چې کله به خپلو خبرو ته دوام ورکوي. په زړه کې مې تېره شوه چې اوس ورڅخه د پایلې په اړه پوښتم، خو هغه خپلې چوپتیا ته په دې خبرو د پای ټکی کېښود.

په کلي کې مې له یوې انجلۍ سره اړیکه جوړه شوه. ما به ډېری وخت له هغې سره په تلېفون خبرې کولې. له تا څه پرده. چې ښه یې ګڼهګار کړم. زما څه خاص دنده هم نه وه، له یو او بل څخه به مې پور اخیست او خپل ژوند ته به مې دوام ورکاو. لنډه دا چې د هغې پېغلې سره د زنا مرتکب شوم. او دغه کړنه مې عدت وګرځېد. یوه ورځ وه چې د کلي خلک زما په کردار پوه شو او پرېکړه یې وکړه چې ما ووژني. دا چې په کلي کې مې ملګري درلودل، نو خبر یې راکړ چې کلیوال دې په مرګ پسې در روان دي. زه په کور کې د بلۍ سر ته وختم او څارنه مې کوله. څه ګورم چې د خلکو یو ټولګی زموږ د کور پر لوري راروان دی. لږ وخت وروسته تر دروازې راورسېدل. دروازه یې وټکوله، خو څوک ور ونه وتل. بیا یې دروزه وټکوله. پلار مې چې سمدلاسه له خوبه راپاسېدلی و. د دروزې پر لوري یې حرکت وکړ. د دوروازې په خلاصولو یې یو تن ګرېوان ته لاس ور واچاو او ورته یې وویل: څه شو هغه کلک سترګی. پلار مې په حیرانتیا سره وروکتل او ورته یې وویل: وروره! خیر شه څه خبره ده؟ څوک یادوې. د کلي خلکو په یو غږ وویل: ښه، خبر نه یې چې هغه کلک سترګي ځوی دې څه ګلونه کرلي دي. دا چې د اخلاقو له نګا څخه په کور کې ښه معرفي شوی وم، نو پلار مې هم حیران ولاړ و. د زړه په زور یې لاړې داسې تېرې کړې چې د دوو متو په واټن کې یې غړپ ما واورېد. په بې وسه لهجه یې وویل: ګورئ! زه له هېڅ هم نه یم خبر. په دوی کې یو کس چې د انجلي له کورنۍ څخه و، زما

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلار تـه يې پـه ترخـه لهجـه وويـل: زوی دې زموږ عزت تـه لاس اچولای دی، اوس دې همـدلتـه کار ختموم. د کلي ملـک چې ګوډ ګوډ کېـده، لـه واړندې يې په هلک ورغږ کړ. ودرېږه هلکه. خلک ټول ملک ته متوجې شـول. ملک چې زما تر پلاره راورسېد، مخکې له دې چې څه ووايي، پلارمې ورغبرګه کړه. ملک صـــاحب! زه له هېڅ هم نه يم خبر. زه به پلټنه وکړم، که چېرته مې ځوی ګُنهګار و، نو په خپل لاس يې وژنم. ملک هم خلکو ته قناعت ورکړ، خلک روخصـت شـول. پلار مې په نا هيلو قدمونو راسـتون شـو. د کور خلکو ورڅخه پوښـتنې کولې، خو هغه غلی و. بيا يې په تېز غږ وويل: وای کلک سترګيه! تا خو موږ په شرمونو وشرمولو.

هغه لاسـونه چې تل به زما په حق کې د دعا لپاره لپه و، نن مې په لومړي ځل د ځان د بربادۍ لپاره لپـه وليـدل. هغـه ســـترګې چې پـه ژوند کې مې سرې او په ژړا نه وې ليدلې، نن مې سرې او په ژړا وليـدې. هغه خلک چې زما د پلار احترام به يې کاو، نن مې د هغوی لاســـونه د خپل پلار په ګرېوان کې وليدل.

دومره پوه شوم چې په دې کور او کلي کې مې ځای ورک شو. شپه پښه شو. څادر مې له ځان څخه چاپېر کړ. له بام څخه راښکته او د ښار پر لوري راروان شوم.

بيا جواد په ژړغوني غږ وويل: صـاحبه! د خپل پلار لپه لاسـونه او زما په حق کې بدعا مې له سـترګو څخه نه اوړي. په ورځ کې سل وارې مرم. کله کله د ځان وژنې اراده وکړم، خو بيا له دې کاره په شا شم، ځکه چې خلک وايي: ځان وژنه لويه ګُناده.

جواد په داســـې حال کې روان شـــو چې څادر يې په ځمکه راکښــه. په تلو کې مې ورغږ کړ جواده! سمدلاسه يې راوکتل. يوه شېبه يې سترګو ته زير شوم. بيا تر لږ ځنډ وروسته پخپله مخه ولاړ.

باور وکړئ! ما د هغه سترګې ولوستې.نه خو هغه کلک سترګی او نه وچ سترګی و. د هغو په سترګو کې يو تريخ حقيقـت ځلېده او هغه دا چې جواد ګرم نه و، بلکې ټوله ګُنا د هغه کورنۍ او والدينو ته وه، ځکه چې هغه ورڅخه د شرعي غوښـتنې د بشـپړېدو هيله کړې وه او دوی ورته د کلک سـترګي خطاب وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د کیسې هداف

په دې کیسه کې لاندې اهداف وړاندې شوي دي:

(۱) د اولادونو خبرو او غوښتنو ته باید ارزښت او وخت ورکړل شي.

(۲) کله چې اولاد د شرعي کړنې او عمل د ترسره کولو تقاضـــا وکړي،نو ګرَمول یې نه دي پکار، بلکې په خبرو یې فکر کول پکار دي.

(۲) اولادونو ته باید په وخت ودونه وشي، هغه که نارینه او یا زنانه. ولې چې په ځوانۍ کې د شهوت کنټرول ستونزمن وي او نبي(ع) د نکاح په کولو امر کړی دی.

شریف الله تنها

۰۷۷۹۳۸۵۸۳۰

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**